مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۸

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (ځلور اویایمه برخه)

### محمد شریف نسیم پروان

د غلام قادر زوی په ۱۹۲۳ز کال کې زیږیدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې د چاریکار له لومړني ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې له دارالمعلمینو څخه فارغ سو. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۳ز کال پوري په لغمان او د حبیبیې په لیسې کې تدریس وکړ. په ۱۹۵۳ز کال د پروان د خپروني محرر؛ په ۱۹۵۵ز کال کې د اتحاد بغلان د خپروني او د ‹کرنیزي نشریې› د کرهنې د خپروني محرر. په بـبلابـېلو ښارونو کې د مطبوعاتو مدیر. د راډیو افغانستان پروګرام کنترولر. د تولګیو د وزارت سکرتر. مورنی ژبه ئـي پښتو ده.

### محمد یاسین نسیمي

د محمد نسیم زوی په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زیږیدلی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د کابل له دارالمعلمینو څخه او په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سو. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پوري ئـي د هندوستان په دولتي پوهنتون کې له فراغت وروسته د ‹روزنې›[1] پروګرام ولوست. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـي خپله ماستري په تعلیمي او تربیتي اداري کې[2] د ‹کالیفورنیا د چپمن له کالج›[3] څخه واخیسته. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۱ز کال پوري د حبیبیې د لیسي ښوونکی. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ز کال پوري د ‹شاه – ژ› محمود هوتکي –ژ› د لیسي مدیر. د معارف د وزارت د نشراتو او تدوین مدیر. د ‹ږغوان و بدان› د مجلې محرر. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي مدرس او له ۱۹۶۴تر ۱۹۶۷ز کال پوري د سمعي او بصري عمومي مدیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۱ز کال پوري د صدارت عظمی د پارلماني چارو رئیس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پوري په پارلماني چارو کې د صدر اعظم سلاکار. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د تولګتو د وزارت د اداري چارو رئیس. د لنډو داستانونو لیکوال او د ۱۹۶۴ز کال د ‹محصلینو›[4] د کلني کتاب لیکوال. په ۱۹۷۹ز کال کې له افغانستانه ووت او اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي. مورنی ژبه ئـي دري ده.

[1] -Graduate Training
[2] -Educational Administration
[3] -Chapman College, California
[4] - Associated Students Yearbook : ژباړونکي ونـهٔ سو کولی معادل ئـي په پښتو او یا دري کې ومومي. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## نصیر احمد

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کي د مالیاتو د ریاست رئیس. د ۱۹۷۹ز کال کي د نوامبر په میاشت کي د مالیي په وزارت کي عامه ملکیت ته د اړول سویو ځمکو او جایدادونو د ریاست رئیس [5] رئیس.

## عطأ الله ناصر ضیأ

د امیر حبیب الله خان د ورور سردار نصرالله خان زوی په ۱۹۱۵ز کال کي په کابل کي زیږیدلی دئ. د هندوستان په بنګلور کي له خپلي مور سره یو ځای تبعید سوی وو. په ۱۹۴۶ز کال کي ئي په هندوستان کي خپل لوړ تحصیلات بشپړ کړل. د شاه محمود غازي له اجازې وروسته افغانستان ته راستون سو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۱ز کال پوري د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د انسایکلو پیدیا د ریاست سرپرست رئیس. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۵ ز کال پوري د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د باندنیو ژبو د نشراتو مدیر. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پوري د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو د مدیریت مدیر. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پوري په مسکو کي د افغان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پوري د باندنیو چارو په وزارت کي د منځني ختیځ او د افریقا د چارو د سیاسي مدیریت مدیر. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پوري د باندنیو چارو په وزارت کي د سیاسي چارو مدیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پوري د هندوستان سفیر. په ۱۹۷۰ز کال کي د یوګوسلاویا سفیر. د ۱۹۷۱ز کال د اپریل د میاشتي په لسمي نېټي په بلګراد کي وفات سو. په اردو، انګلیسي، هندي، فرانسوی، ایتالوي هسپانوي، جرمني او روسي ژبو ئي خبري کولې. د عنایت الله خان له لور حمیرا سره ئي وادهٔ کړی او دوه زامن لري.

## فاطمه ګیلاني – ناصر ضیأ

د پیر سید احمد ګیلاني او د عادلي (د سردار عبدالباقي او عزیزه سراج د لور) لور په ۱۹۵۴ز کال کي په کابل کي زیږېدلي ده. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۱ز کال پوري ئي د ملالی په لیسي کي زده کړې کړي دي؛ او بیا ئي د ایران په ملي پوهنتون کي تحصیل کړی او د اسلام په تأریخي او فارسي ادب کي د لیسانس په درجي په ۱۹۷۵ز کال کي فارغه سوې ده. په خپلي ماسترۍ باندي ئي کار کاوه خو په ۱۹۷۸ز کال کي پوهنتون ونړل سو. په ۱۹۷۸ز کال کي لندن ته کډه سوه او له ۱۹۸۳ز کال راهیسي په انګلستان کي د افغانستان د اسلامي ملي محاذ استازې ده. د افغانستان په هکله لکچر ورکوونکي، او برتانیي ته د راتلونکو مجاهدینو د پلاویو لپاره ژباړونکي.

## عبدالاحد ناصر ضیأیي

(په بمبئي کي د پخواني جنرال قنسل د سردار نصرالله د زوی، رؤوف ضیأیي زوی. زده کړې ئي په بمبئي کي کړي دي. په ۱۹۶۵ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د اطلاعاتو د مدیریت غړی. په ۱۹۷۳ز کال کي د اطلاعاتو مدیر. په ۱۹۷۹ز کال کي په قاهرې کي د افغان سفارت شارژ دافیر. په ۱۹۸۳ز کال کي د سیاسي چارو عمومي مدیر. له مریم ضیأیي سره ئي وادهٔ کړی دئ.

[5] - Nationalized property


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## عبدالرحیم ناصر ضیأیي

د سردار نصرالله د زوی عبدالرؤوف زوی. د کابل پوهنتون د انجنیرۍ د پوهنځي کارمند. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې ئـې د سن سناتي [6] په پوهنتون کې ئـې په انجنیرۍ کې تحصیلات وکړل. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## کاظم نصیري

په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسي کې او په فرانسي او سویتزرلند کې ئـې په سوداګرۍ کې بانکدارۍ کې تحصیلات کړي دي. د افغانستان بانک دایرکتر. له یوې سیویسي مـېـرمن سره ئـې واده کړی دئ. په ۱۹۸۳ز کال کې په سویتزرلند کې وفات سو.

## ډاکټر توریـالی نصیري

د فیض مـحمد نصیري زوی په ۱۹۳۶ز کال په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کې له دولسم ټولګي او په ۱۹۶۲ز کال کې له پوهنتون څخه فارغ سو. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې ئـې نور لوړ تحصیلات په لندن کې وکړل. د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي پوهیالی او وروسته پوهندوی. په ۱۹۷۵ز کال کې ئـې افغانستان پرېښـود او د توکیو په پوهنتون کې ئـې یو تحقیق وکړ. له ۱۹۷۹ز کال راهیسي پېښور کې دئ او د افغان کډوالو لپاره ئـې د یونین اید [7] په نوم یوه بشري خیر رسوونکي مؤسسه جوړه کړه.

## خان ضیأ نصري [8]

د نصرالله خان زوی او د حاجي نواب خان لوګري لمسی په ۱۹۴۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۰ز کال پورې ئـې د امریکا د متحده ایالاتو د میسوري – ژ» د راک هرست په کالج» [9] کې تحصیل وکړ او په ۱۹۷۲ز کال کې ئـې د M.I.T. [10] له انستیتیوت څخه خپله ماستري واخیستله. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې د هاروړ د بزنس سکول [11] نړۍ والي بازار موندنې [12] له انستیتیوت څخه تصدیق لیک تر لاسه کړ. د امریکا تابعیت لري. په ۱۹۷۱ز کال کې ئـې د افغانستان د بېړنیو مرستو وجه [13] سمبال کړه. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې د شمالي امریکا د افغانستان بنسټ[14]جوړ کړ. په ۱۹۷۸ز کال کې ئـې د پاکستان په شمال لویدیځ سرحد کې د افغانستان د اسلامي ولسپالي انقلابي شورۍ [15]ملاتړ وکړ. په ۱۹۸۰ز کال کې میران شاه ته نـېـږدې چې د یوې غونډې لپاره روان وو ونیول سو. ایران ته

---

[6] -Cincinnati
[7] - Union Aid For Afghan Refugees
[8] -Nasry, Khan Zia (Nassry)
[9] -Rockhurst College
[10] - MASSACHUSETTS INSTITUTE OF TECHNOLOGY
[11] -Harvard Business School
[12] -International Marketing Institute
[13] -Afghanistan Emergency Relief Fund
[14] -Afghanistan Foundation of North America
[15] -Afghanistan Islamic and Nationalist Revolutionary Council in Northwest Frontier, Pakistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولـئ

لاړ او هلته له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې زنداني وو. په ۱۹۸۵ز کال کې ئې د نيو يورک په ښار کې د «افغان نيوز» [16] بنسټ کښېښود.

## ډاکټر شير احمد نصري

په ۱۹۳۸ز کال کې په پنجشير کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په پنجشير او منځنی زده کړې ئې په کابل کې کړي دي. په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه د ليسانس په اخيستلو فارغ سو. په ۱۹۶۵ز کال کې ايران ته لاړ او په ۱۹۶۸ز کال کې ئې خپله ماستري په فارسي ژبې او ادب او تولنيزو علومو کې تر لاسه کړه. او په ۱۹۷۰ز کال کې ئې خپله دکتورا د تهران له پوهنتون څخه واخيستله. همدا شان په ۱۹۷۳ز کال کې ئې انګليسي ژبه په آستراليا کې ولوستله. په ۱۹۷۰ز کال کې د انيس د راپورترانو مدير. په ۱۹۷۰ز کال کې د لمر د مجلې محرر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د نشراتو عمومي مدير؛ او ورسره هم مهاله د کابل پوهنتون د فارسي ادب مدرس. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د کتاب پلورونکي په توګه ئې شخصي کار پيل کړ. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په مياشت کې ئې افغانستان پرېښود. له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د رباني په مشرۍ د افغان مهاجرينو د علمي مشورتي ډلې عمومي مدير. د ۱۹۸۵ز کال د مارچ په مياشت کې آستراليا ته لاړ. «په افغانستان کې د شوروي د تيري ګرې پاليسی تاريخ» [17] ئې وليکـهٔ چي په تهران کې چاپ سو، د ياد کتاب په ګډون د ګڼو نورو آثارو ليکوال دئ. له مېـرمن حفيظي سره ئې وادهٔ کړی او پينځـهٔ بچيان لري.

### نور بيا

## سردار نصرالله

سردار. محـمدزی. د امير عبدالرحمن خان زوی دئ او...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[16] -Afghan News, New York City
[17] -History of Soviet Aggressive Policy in Afghanistan


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ